13 مارچ 2025

# د ټولنیز کار ستوری: یو زیات تجربه لرونکی کس د ولسوالۍ ښوونځي د کال د غوره ټولنیز کارکوونکي په توګه ونازول شو!

Don Wessels چې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (*DCSD*) ټولنیز کارکوونکی دی، د هغه ملګري هغه دوستانه، آرام طبیعته، زیارکښ، یو مشر او یو پوه سلاکار بولي. ښاغلی Wessels چې د ستاینې وړ درې لسیزې مسلکي تجربه لري، په دې وروستیو کې د DCSD *د ښوونځي د کال غوره ټولنیز کارکوونکي* په توګه ونازول شو چې دا ویاړ یې له خپلو همکارانو څخه د مینې، قدردانۍ او مننذویی سره ترلاسه کړ.

د DCSD د ښوونځیو د ټولنیزو کارکوونکو څانګه دا جایزه ورکوي کومه چې هر کال د مارچ په میاشت کې په ملي کچه پیژندل شوې د ښوونځي ټولنیز کار اونۍ په جریان کې د څانګې د غړو له خوا د رایو له لارې ټاکل کېږي. یاده اونۍ په یوه غرمهنۍ مېلمه پالنې پای ته ورسېده چېرې چې ښاغلی Wessels د روان کال د دې معتبرې جایزې ګټونکی اعلان شو.

ښاغلي Wessels وویل چې "دا یو ستر ویاړ دی چې د خپلو همکارانو لخوا د ستاینې لپاره وټاکل شوم ځکه چې د ټولنیز خدمت په څانګه کې هر کس زموږ په هیواد کې د ماشومانو او ښوونځیو د ملاتړ لپاره دا ډول ژمني کوي." "دا یو ځانګړی ویاړ دی چې د خپلې څانګې له هغو کسانو څخه د یوه په توګه وپیژندل شم."

ښاغلي Wessels خپل ټول 32 کلن مسلک د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ لپاره د ټولنیز کارکوونکي په توګه ځانګړی کړی چې ډېره برخه یې په Lakeside عالي ښوونځي کې تېره کړې ده. مخکې له دې چې د ښوونځي په ولسوالۍ کې شامل شي هغه د 15 کلونو لپاره د کوچنیانو د محکمې د نظارت افسر پاتې شوی. د هغه دا پرېکړه کول چې یو ټولنیز کارکوونکی شي یو څه د خپلې انا (نیا) له خوا هڅول شوی و چې هغې هیله لرله چې هغه به پادري شي. خو هغه د نورو د هڅولو او هغوی ته د هیلې وربخښلو لپاره یوه بله لاره غوره کړه.

ښاغلي Wessels وویل چې "زه فکر کوم چې هغې به درک کړي وي چې هغه ډول کار چې ټولنیز کارکوونکي یې کوي یقیناً د پادري د خدمت بڼه لري — دا یوه ډېره ورته وظیفه ده."

د هغه له همکارانو سره بحثونو د ښاغلي Wessels سره د کار کولو په اړه د هغوی تجربو دا خبره روښانه کړه چې هغه یو روحاني مشر دی. هغه ټل هغوی هڅول او الهام یې ورکاوه تر څو د ولسوالۍ تر ټولو بې وسه (ناتوانه) زده کوونکو ته د خدمت پر مهال خپله تر ټولو ښه وړتیا وکاروي. د Shelly Bishop د مخکښې ټولنیزې کارکوونکي په توګه له ترفیع دوه کاله وروسته ښاغلي Wessels هغې ته وویل چې هغه د همدې دندې لپاره ټاکل شوې وه.

"هغه هماغه وخت زما سترګې پرانیستې. آغلې Bishop چې اوس د ټولنیز کار د خدمتونو همغږي کوونکې ده وویل چې خبره د انکشاف نه ده؛ خبره د هغه چا ده چې ستا فکر ته رڼا ورکوي." "په واقعي توګه Don او ما هېڅکله یوځای کار نه دی کړی ځکه چې موږ د ولسوالۍ په بیلابیلو برخو کې خدمت ترسره کړی. هغه زه په اصل کې نه پېژندم خو ټل ډېر دوستانه چلند یې راسره کاوه. دا د هغه لپاره یو پرځای ویاړ دی."

د DCSD مخکښې ټولنیزې کارکوونکې Katina Watts وویل چې ښاغلی Wessels یو له هغو لومړنیو کسانو څخه و چې هغې ته یې ښه راغلاست ووایه کله چې هغه په لومړي ځل د ښوونځي ولسوالۍ ته راغله او د هغې د ټول مسلک په اوږدو کې هغې لپاره یو تسکین ورکونکی ځواک پاتې شوی دی.

آغلې Watts وویل چې "د [ناورین] پر مهال آرام ښونکی غږ اورېدل ټل ښه احساس ورکوي." "کله چې زه د یو ناورین په منځ کې یم نو زه Don لټوم ځکه چې Don به دا حالت آرامه کړي او دا یو له هغو شیانو څخه دی چې زه یې د هغه په اړه خوښوم. زه د هغه د حکمت او پوهې ستاینه کوم؛ هغه ډېر معلومات لري چې له نورو سره یې شریک کړي."

ښاغلی Wessels باور لري چې هر کار چې هغه يې کوي او هره کلمه چې هغه يې وايي موخه يې د DCSD د زده کوونکو سره مرسته کول دي چې له تعليمي او ټولنيز پلوه بريالي شي. هغه خپله بريا د يوه ټولنيز کارکوونکي په توګه د ولسوالۍ دې ژمنې ته منسوبوي چې د زده کوونکو د برياليتوب لپاره د ملاتړ لارې چارې لټوي.

"هغه اړتياوې چې ماشومان يې له ښوونځي څخه بهر لري ډېرې سترې او خورا ژور تاثير لرونکې دي. هغه وويل چې "د يوه زده کوونکي ټولنيز کارکوونکي په توګه مور. له زده کوونکو سره د ذهني فشار او سختيو پرمهال مرسته کړې ده." "مور. د کورنيو ملاتړ کوو او مديرانو او د ټولګي ښوونکو ته نظر ورکوو ترڅو دوی پوه شي چې ماشومان د ښوونځي څخه بهر څه اړتياوې لري او د ماشومانو د ملاتړ کولو پرمهال دا اړتياوې په پام کې ونيسي."

ښاغلی Wessels د تقاعد نېټې ته نږدې شوی او هغه هيله لري چې کله هغه ورځ راورسيږي، همکاران او هغه زده کوونکي چې ده ورسره مرسته کړې، دی به د ولسوالۍ د ښوونځي د ټولنيز کار څانګې لپاره د يوه پياوړي ملاتړي (پلوي) په توګه ياد کړي.

هغه وويل چې "زه هيله لرم چې دوی به ووايي چې ما له مديرانو، ښوونکو، سلاکارو او په ځانګړي ډول له ماشومانو سره کار کړی ترڅو د دوی په ښه کولو کې مرسته وکړم." "زه هيله لرم چې دوی ما د زده کوونکو او د دوی د کورنيو د ژوند ښه کولو لپاره د يوه ملاتړي ځواک په توګه ياد کړي."